ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونيزه

د اقتصـــادي او ټـولنيـــزو مسايلـــو
پـه بـــرخـــه کـــې د رياست الوزراء
اقتصـــادي معاونيـــت خـــبري اوونيزه



د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست

ګڼه ۲۹

نېټه: شنبه، جمادی الاول ۲۶ مه ، ۱۴۴۵ هـ . ق کال

## سرلیکنه



د یوې ټولنې او یا هم یو هېواد اقتصاد په پانګونې ولاړ وي، ځکه د همدغه پانګونــې په برکت تولید رامنځ ته کېږي او تولید بیا هغه څه دی چې د اقتصادي تحرک په موخــه د وګړو هلې ځلې او فعالیتونه سره را یو ځای کوي. څوک مستقیماً د تولید په پروسه کې دخیل وي، څوک ورته خام مواد برابروي، د چا دنده بازار موندنه وي او یو شــمېر یې په نورو برخو کې په کار بوخت وي. دا ټول هغه څه دي چې له پانګونې سرچینه اخلي، ځکه خــو باید د اقتصادي نظام د تحــرک په موخه پانګونه تشویق، حمایه او وهڅول شي. په همدې موخه اسلامي امارت د پانګونې د هڅونې، جذب او په دې برخه کې د اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه د پانګونې بین الوزارتي کمېټه جوړه کړې ده. د دې کمېټې په وروستۍ ناسته کې د ۷۷ ترکي او زولرســتان شرکتونو له لوري د کابل ولایت په سروبي ولســوالۍ کــې د ۲۲,۷۵ میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید، په بلخ کې د ډبرو سکرو د بارولو او خالي کولو لپاره د عصري، معیاري ترمینل جوړولو او د ګلبهار انویســتمنټ ګروپ له لــوري له ګاز څخه د برېښنا د تولید او د کابل ښار د دوهمې ناحیې په قوايي مرکز سیمه کې د سوداګریز مرکز جوړولو طرحې وړاندې شــوې. د یادو طرحو د اقتصادي، تخنیکي او حقوقي ارزونې لپاره مختلفې کمېټې وټاکل شوې.

پورتنۍ طرحــې چې د خصوصي ســکټور له لوري د پانګونې بین الوزارتي کمېټې ته وړاندې شوې دي، دا ټولې د پانګونې دي. سره له دې چې دا پانګونه کمه ده او څه باید وشي چې په کور دننه خصوصي سکټور پانګونې ته وهڅول شي، تر څنګ یې باید په ستره کچه بهرنۍ پانګونه هم راجلــب شي. د دې چارې به دوې ګټې وي، یوه دا چې هر څومره د پانګونې کچه ډېرېږي په هماغه کچه بــه هېواد د اقتصادي ودې او پرمختګ بهیر ته داخل شي، بل دا چې اوس افغانستان د مخ پر ودې هېوادونو په کتار کې راځي او د پرمختګ په حال کــې هېوادونو د ځانګړنو پر بنســټ مونږ د پانګې له کمبــود سره مخ یوو، ځکه خو بایــد د نورو مخ پر ودې هېوادونو او یا پرمختللو هېوادونو له تجربو ګټه واخلو او د خپلې اقتصادي ودې، پرمختګ او هوساینې لپاره هغه ټولــې لارې چارې په کار واچوو چې زمونږ له اقتصادي پرمختګ سره مرســته وکړي او دغــه ډول کوچنۍ او سترې پانګې راجلب کړو.

که چېرې موږ پر دې بریالي شوو چې کورنۍ او بهرنۍ پانګونه د خپل هېواد د قوانینو په رڼا کې راجلب کړو، نو بیا کولای شــو چې زېربنایي پــروژې عملي، طبیعي زېرمې اســتخراج، صنعت پیاوړی، کرنه میکانیزه او نور ســکتورونه پر خپلو پښو ودروو. له دې سره به موږ یوه پیاوړي اقتصاد څښتنان او هېواد به مو پرمختګ وکړي. اســلامي امارت همدې مهم ټکي ته په پاملرنې سره د کورنــۍ او بهرنۍ پانګې د جلب پــه برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي دي او د پانګونې بین الوزارتي کمېټې جوړول یې ښه مثال دی.

## د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري د شاوخوا ٤ میلیارده افغانیو په ارزښت ۱۸ بېلابېلې پروژې منظورې شوې



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېســیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د وړاندې شوو پروژو په اړه بحث وشو.

د ملي تدارکاتو کمېسیون یادې غونډې ته ۲۸ پروژې د بحث لپاره وړاندې شــوې چې له جملې یې د ۱۸ پروژو قراردادونه منظــور او د ۵ پروژو د قراردادونو په اړه ټاکل شویو کمېټو ته دنده وسپارل شوه، څو دغه قراردادونه په هراړخیز ډول وڅېړي او د نهایي تصمیم نیونې په موخه یې د مــلي تدارکاتو کمېســیون راتلونکــي مجلس ته وړانــدې کړي. همدارنګــه د ۵ نورو پــروژو په اړه ملي تدارکاتو ریاست ته دنده وسپارل شوه څو یاد قراردادونه په هراړخیــز ډول و ارزوي او راپور یــې د ملي تدارکاتو کمېسیون له مشرتابه سره شریک کړي.

منظور شــوې پروژې د ملي دفاع، کورنیو چارو، مالیې، ټولګټــو، د مخابراتو او معلومــاتي ټکنالوژۍ وزارتونو، د افغانستان برېښنــا شرکت او کابل ښاروالۍ اړوند دي، چې ټولیز ارزښــت یې شــاوخوا (۴) میلیارده افغانیو ته رسېږي. په یادو منظور شوو پروژو کې د چک ورډک بند د پاتې چارو بشپړولو، له ارغندی تر غزني پورې د ۲۲۰ کیلو ولټ برېښنــا د لین غځولو پاتې چارو بشــپړولو، د هرات او تور غونډۍ د نورالجهاد د ۲۲۰ کیلوولټ لین د

انســولټرونو چمتو کولو، د زابل ولایت له شــهر صفا ولســوالۍ تر مانجي پورې د غځېدلي سړک اساسي بیارغونــه، د کابل – لوګر ســړک د دوهم لین د پاتې چارو بشــپړولو، هېوادوالــو ته د باکیفیتــه او چټکو انټرنیټي خدمتونو وړاندې کول او یوشمېر نورې پروژې شــاملې دي، چې په پلــې کېدو سره به یــې زرګونو هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شي.



# د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک وروستي راپور په تړاو د ۱.۱.۱ د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیه!



دافغانستان اسلامی امارت

معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

Deputy PM for Economic Affairs Office

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

## د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک وروستي راپور پــه تړاو د ۱.۱.۱ د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیه!

د افغانســـتان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک له لوري د ۲۰۲۳ میلادي کال د ډســـمبر میاشتې په څلورمه نېټه راپور خپور شوی دی. په دې راپور کې د افغانستان اقتصادي وضعیت ته کتنه شوې ده.

په راپور کې ویل شوي چې د انفلاسیون کچه د تېرو میاشتو په پرتله نوره هم ټیټه شوې، ملي عواید زیات شوي، د وارداتو په کچه کې زیاتوالی راغلی، د بهرنیو اســعارو پر وړاندې د افغانۍ ارزښــت د پام وړ پورته شوی، د خوراکي او غیر خوراکي توکو په بیو کې ټیټوالی راغلی، په بانکي سیستم کې پرمختګ شوی او باکیفیته روغتیایي خدمتونه خلکو ته وړاندې شوي دي.

د افغانســـتان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د اقتصادي وضعیت په تړاو د نړیوال بانک له لوري د خپاره شوي راپور د پورته ذکر شویو برخو ستاینه کوي چې په واقعیتونو ولاړې دي، ځکه دا پرمختګونه  یو عیني واقعیت دی چې یاد بانک نړۍ ته وړاندې کړی دی. دا چې په راپور کې ویل شـــوي چې د افغانستان نیمایي وګړي د بې وزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي، اسلامي امارت دا خکه ردوي چې له تحول وروسته د هېواد په کچه لویې او متوسطې پروژې پیل شوې دي چې لسګونو زرو کسانو ته په کې د کار زمینه برابره شوې ده او دغه راز د سوداګرۍ، صنعت، کرنې او زېربنا په برخو کې په پرمختګونو سره هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شوي چې له امله یې د هېوادوالو ډېرې  اقتصادي ستونزې هوارې شوې دي. دا چې نړیوال بنسټونه پرې سترګې پټوي، دا له واقعیت څخه لرې دي او اسلامي امارت یې نه تاییدوي.

د افغانستان اسلامي امارت پر دې باور دی چې که نړیواله ټولنه مثبت تعامل ته مخه، پر بانکي سیستم او نورو برخو شته بندیزونه لرې او د افغانســـتان کنګل شوې شـــتمني آزاده کړي، نو افغانســـتان به د نورو برخو ترڅنګ په اقتصادي برخه کې په بشپړ ډول پرمختګ وکړي. دغه راز د افغانستان اسلامي امارت یو ځل بیا له ټولو نړیوالو سازمانونو څخه غواړي چې د افغانستان په اړه نړۍ ته هغه پرمختګونه په ډاګه کړي چې د هرې ورځې په تېرېدو سره په افغانستان کې رامنځته کېږي؛ په دې سره به نړۍ د افغانستان پر واقعي وضعیت او دلته له ترسره شویو پرمختګونو څخه خبره شي.

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

@FDPM_AFG

www.dpmea.gov.af

# بهرنیو هېوادونو ته د افغاني محصولاتو په صادراتو کې د پام‌وړ زیاتوالی راغلی دی

## بهرنیو هېوادونو ته د افغاني محصولاتو په صادراتو کې د پام‌وړ زیاتوالی راغلی دی

د ۲۰۲۳م کال په لومړیو **یوولسو میاشتو** کې د **یو میلیارد** او **۷۱۷ میلیون ډالرو** په ارزښت توکي بهرنیو هېوادونو ته صادر شوي دي چې دا د هېواد د صادراتو په تاریخ کې یو بې ساری گام دی.

### هغه توکي چې د ټولو صادراتو ۷۶ سلنه جوړوي







پاتې ۲۴ سلنه نور بېلا بېل صادراتي توکي دي




۹۷ سلنه توکي لاندې هېوادونو ته صادر شوي:

1. ایران
2. عراق
3. پاکستان
4. عربستان
5. هندوستان
6. چین
7. تاجکستان
8. قزاقستان
9. متحده عربي امارات
10. ازبیکستان

پاتې ۳ سلنه توکي د نړۍ نورو هېوادونو ته صادر شوي دي.




# د ملي تدارکاتو کمېسيون له لوري د شاوخوا ٤ميلیارده افغانيو په ارزښت ١٨ بېلابېلې پروژې منظورې شوې

# د اقتصادي کمېسيون د تخنيکي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه

د اقتصادي کمېسيون د تخنيکي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره او له اجندا سره سم د وړاندې شوو موضوعاتو په اړه هراړخيز بحث وشو. دغې ناستې ته د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري د برېښنا سکتور پنځه کلن پراختيايي پلان د بحث لپاره وړاندې شوی و، چې تر هراړخيزې ارزونې وروسته په پرنسيپ کې تاييد او د منظورۍ لپاره به اقتصادي کمېسيون ته وړاندې شي. د دغه پنځه کلن پلان پر اساس به په راتلونکو پنځو کلونو کې د ٣،٨ ميليارده ډالرو په ارزښت شاوخوا ٢٠٠ د برېښنا توليد مختلفې پروژې بشپړې شي، چې له مخې به يې افغانستان د برېښنا توليد په برخه کې خودکفايي ته نږدې شي.

همدارنګه په دغه غونډه کې د افغانستان د غاليو توليدوونکو او صادروونکو اتحاديې د ځمکو وېش په اړه د صنعت او سوداګرۍ وزارت په مشرۍ يوې ګډې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو ياده موضوع په هراړخيز ډول وڅېړي او خپل راپور د دغه کمېټې راتلونکې غونډې ته وړاندې کړي.

همدا راز د عدليې، ماليې، کانونو او پټروليم او اوبو او انرژۍ وزارتونو له استازو څخه جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د افغانستان برېښنا شرکت، افغان ګاز تصدۍ او بيات پاور ترمنځ له طبيعي ګازو څخه د برېښنا د توليد درې اړخيز تړون په هراړخيز ډول وڅېړي او خپل راپور د دغه کمېټې راتلونکې غونډې ته وړاندې کړي.



ABADI weekly هفته نامه
آبادي اوونيزه

د اقتصـادي او ټـولنيـزو مسايلـو
پـه بـرخـه کـې د رياست الوزراء
اقتصـادي معاونيت خـبري اوونيزه

# د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي ناسته په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه

د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي ناسته په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د پانګونې وړاندیز شوو طرحو په اړه هراړخيز بحث وشو. په دغه ناسته کې د ۷۷ ترکي او زولرستان شرکتونو له لورې د کابل ولايت په سروبي ولسوالۍ کې د ۲۲,۷۵ ميګاواټه لمريزې برېښنا د توليد طرحه تر هراړخيز بحث وروسته تاييد او د منظورۍ لپاره اقتصادي کمېسيون ته راجع شوه.

همدارنګه په ياده ناسته کې پرېکړه وشوه څو د بلخ ولايتي مسوولين په بلخ کې د ډېرو سکرو د بارولو او خالي کولو لپاره د مدرن او معياري ترمينل جوړولو په موخه په مناسب ځای کې د خصوصي سکتور لپاره ځمکه مشخصه او راپور يې دې د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې دغې ناستې ته د ګلبهار انويستمنټ ګروپ له لورې له ګاز څخه د برېښنا د توليد او د کابل ښار د دوهمې ناحيې په قوايي مرکز سيمه کې د سوداګريز مرکز جوړولو طرحې هم د خصوصي سکټور له لورې وړاندې شوې. د يادو طرحو د اقتصادي، تخنيکي او حقوقي ارزونې لپاره مختلفې کمېټې وټاکل شوې او سپارښتنه ورته وشوه، څو په اړه يې خپل راپورونه د دوه اوونيو په جريان کې له دغه کمېټې سره شريک کړي.





# هدف و اهمیت ایجاد کمیتۀ

## سرمایه گذاری بین الوزارتی

نویسنده: هدایت الله واحدی

**مقدمه**

امروزه جذب سرمایه گذاری به عنوان یکی از مهم‌ترین متغیر های اقتصادی در اکثریت کشور های جهان مورد توجه است. تحقیقات نشان میدهد که سرمایه گذاری، اثرات قابل توجهی روی مسایل اقتصادی از جمله افزایش در عواید مالیاتی، نرخ تورم، نرخ اسعار، حسابات نقدی، ازدیاد رشد اقتصادی، بلند بردن سطح اشتغال، کاهش واردات و انکشاف صادرات دارد که ناشی از این مفدیت، ثبات اقتصادی به گونه شاید و باید به وجود میآید. باید گفت، شرایطی که متضمن سرمایه گذاری در کشور های در حال توسعه باشد، تأمین شود، سرمایه گذاران بین المللی میل و رغبت بیشتری برای حضور در اینگونه بازار ها خواهند داشت. توسعه اقتصادی بدون ذخیره سرمایه امکان پذیر نخواهد بود، سرمایه می توان بخش تولید را تحرک بخشد و با افزایش تولید، موجب رشد تجارت، بهبود سطح زندگی مردم و رشد و توسعه اقتصادی شود، از اینرو با اهمیتی که سرمایه گذاری در جوامع دارد، امارت اسلامی برای جلب سرمایه گذاری داخلی و خارجی همیشه از سرمایه گذاران حمایت نموده و در این راستا تلاش های خستگی ناپذیری داشته است، که یکی از آن موارد جهت تسهیل طی مراحل طرح های سرمایه گذاری ایجاد کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی می باشد، که در نوشته حاضر پیرامون هدف و اهمیت این کمیته و چگونگی طی مراحل طرح های سرمایه گذاری از طریق این کمیته سخنانی به گونه اجمالی برچیده ایم که توجۀ علاقمندان را به آن معطوف میداریم.



## هدف و ارزش ایجاد کمیته بین الوزارتی

کمیتهٔ سرمایه گذاری بین الوزارتی بر بنیاد مصوبهٔ شماره دوم سال ۱۴۴۵ هـ.ق کمیسیون اقتصادی، تحت قیادت محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان ایجاد گردیده و نشست مقدماتی آن به تاریخ ۲۵ سنبله تدویر گردید. در جلسهای که به همین مناسبت دایر گردیده بود، مولوی عبدالله عزام سکرتر خاص معاون اقتصادی ریاست الوزراء گفت، با روی کار آمدن امارت اسلامی، افغانستان در عرصهٔ اقتصادی گام های مهمی برداشته و نتایج خوبی نیز در پی داشته است. عزام افزود، که افغانستان در بخش سرمایه گذاری فرصت های زیادی دارد و این کمیته برای سرمایه گذاران داخلی و خارجی سهولت های لازم را فراهم و در ادارات از بروکراسی جلوگیری می نماید. سپس مولوی ذبیح الله ناصر رئیس کمیتهٔ سرمایه گذاری بین الوزارتی، گفت، که این کمیته زیر چتر معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء فعالیت می کند و هدف آن طی مراحل طرح های سرمایه گذاری داخلی و خارجی تحت محوریت واحد، ایجاد شفافیت و سرعت در پروسهٔ سرمایه گذاری و هماهنگی مؤثر میان سرمایه گذاران و وزارتخانه های مربوطه می باشد.

این کمیته که هدف آن تسریع روند جذب سرمایه گذاری داخلی و خارجی، هماهنگی بین وزارتخانه ها و اداره های ذیربط در مراحل اجرای طرح های سرمایه گذاری، ایجاد بستر مناسب برای سرمایه گذاری، زمینه برای مدیریت مطلوب امور، به وجود آوردن سرعت و شفافیت در پروسهٔ سرمایه گذاری، بهبود هماهنگی بین نهاد های امارتی و سکتور خصوصی و ارائه اطلاعات لازم به سرمایه گذاران در مورد پروژه های سرمایه گذاری در افغانستان می باشد، در حال حاضر از مبرمیت خاصی جهت فراهم سازی سهولت ها در حصه طی مراحل اسناد طرح های سرمایه گذاری برای سرمایه گذاران در افغانستان برخوردار بوده که به این وسیله سرمایه گذاران داخلی و خارجی به وقت کم و بدون کدام مشکل در طی مراحل طرح های سرمایه گذاری خویش مبادرت ورزیده می توانند. این کمیته بعد از ایجاد، تا اکنون جلسات متعددی کاری داشته که در نشست های این کمیته پیرامون طرح های ارایه شده از سوی شرکت های سرمایه گذاری داخلی و خارجی بحث صورت گرفته است، که تا این دم در جلسات کمیته بین الوزارتی طرح های مختلفی سرمایه گذاری در سکتور های صنعت، بازسازی، زراعت، تکنالوژی و سایر بخش های مشابه آن ارائه گردیده است، که ارزش مالی آن به میلیاردها افغانی بالغ می گردد، که این مسئله نشاندهنده اهمیت ایجاد این کمیته می باشد زیرا سرمایه گذاران می توانند بدون ضایع شدن وقت، عدم بیروکراسی همچنان با شفافیت کامل در طی مراحل طرح های سرمایه گذاری خویش اقدام نمایند و ایجاد این کمیته باعث آن گردیده تا سرمایه گذاران با اطمینان کامل علاقمند به پیشکش کردن طرح های سرمایه گذاری خویش از طریق این کمیته گردند. این موضوع برای رشد و شکوفایی اقتصادی کشور از اهمیت بسزایی برخوردار بوده چناچه این نوع تسهیل آوری در طی مراحل طرح های سرمایه گذاری و جلب سرمایه گذاری داخلی و خارجی نقطه عطف می باشد زیرا سرمایه گذار به اسرع وقت می تواند، طرح های سرمایه گذاری مربوطه خویش را بدون ضایع شدن وقت به وجه احسن به سر رسانیده و در صورت بروز مشکل با این کمیته جهت حل آن به تماس می شوند.



## چگونگی طی مراحل طرح های سرمایه گذاری داخلی و خارجی در افغانستان:

سرمایه گذاران داخلی و خارجی که علاقمند به سرمایه گذاری در افغانستان اند، طرح های سرمایه گذاری آنها با طی نمودن مراحل ذیل تحقق میابد:

۱- سرمایه گذاران طرح های سرمایه گذاری را به دارالانشای کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی بسپارند؛

۲- کمیته پس از ارزیابی های اولیه، طرح ها را برای اجرآآت لازم به اداره های ذیربط ارجاع می کند؛

۳- وزارتخانه ها/اداره ها و سرمایه گذاران در زمان معین وظایف سپرده شده از سوی کمیته را انجام و گزارش را به کمیته ارائه می کنند؛

۴- کمیته گزارش توحیدی به وزارتخانه ها/اداره های مربوطه را بعد از ارزیابی نهایی به هدف منظوری به کمیسیون اقتصادی پیشکش می کند؛

۵- بعد از منظوری کمیسیون اقتصادی، طرح ها به منظور تطبیق به وزارتخانه ها/اداره های ذیربط ارسال می شوند؛

٦- وزارتخانه ها/اداره های ذیربط مکلف اند تا طرح های را که از سوی کمیسیون اقتصادی

منظور گردیده در زمان معین عملی نمایند.
در صورتی که سرمایه گذار در طی مراحل و اجرای پروژه ها با مشکل مواجه شود، می تواند، جهت رفع آن کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی را در جریان بگذارد.



## نتیجه‌گیری

از مفاهیم که در بالا به گونه‌ای اجمالی به آن اشاره شد برمیاید، شرایطی که متضمن سرمایه گذاری در کشور های در حال توسعه باشد، تأمین شود، سرمایه گذاران بین المللی میل و رغبت بیشتری برای حضور در اینگونه بازار ها خواهند داشت.کمبود سرمایه در مباحث اقتصادی به عنوان یکی از مهمترین عوامل عدم توسعه کشور ها مطرح شده است. رشد و توسعه اقتصادی بدون ذخیره سرمایه امکان پذیر نخواهد بود، از اینرو ایجاد کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی یک اقدام خیلی‌ها بجا در راستای جلب سرمایه گذاری و استفاده مزید در رشد و توسعه اقتصادی محسوب می شود. زیرا تسریع در روند جذب سرمایه گذاری داخلی و خارجی، هماهنگی بین وزارتخانه ها و ادارات ذیربط در طی مراحل طرح ها، مدیریت مطلوب، منسجم نمودن امور و حل معضلات در مراحل اجرای طرح‌های سرمایه گذاری که از اهداف مهم این کمیته است به نحوی از انحاء میل و رغبت سرمایه گذاران را به سرمایه گذاری بیشتر می سازد زیرا تسهیلات در هر زمینه که باشد سبب علاقمندی می شود و شرکت های سرمایه گذار میل به سرمایه گذاری می کنند.



# د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ
پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۶۹,۴۵؋ | ۶۹,۵۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۳۷؋ | ۲۳۸؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۱,۳۸؋ | ۱,۴۰؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۵.۸۰؋ | ۷۶.۰۰؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰,۶۶؋ | ۰.۷۶؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۸۲۹؋ | ۸۳۹؋ |
| ۱ | انگليسي پوند | ۸۷,۱۵؋ | ۸۷,۲۱؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۸,۵۷؋ | ۱۸,۶۷؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹.۱۰؋ | ۱۹.۲۰؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹,۸۷؋ | ۹,۹۷؋ |